# ايا تاسو ته بريا او رزق درکول کېږي مګر ستاسو د کمزورو له امله

له مصعب بن سعد څخه روايت دی وايي چې: سعد رضي الله عنه فکر کاوه چې هغه د هغه څخه پر شکته کسانو غوره والی لري، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: "ايا تاسو ته بريا او رزق درکول کېږي مګر ستاسو د کمزورو له امله".
[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه فکر کاوه چې د هغه د زړورتيا او داسې نورو وړتياوو له امله د نورو کمزورو په پرتله غوره دی! نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: آيا تاسو ته بريا او رزق درکول کېږي مګر ستاسو د کمزورو خلکو له امله، د دوی د دعاګانو، لمونځونو او اخلاص له امله؟ دوی ډېری وختونه په دعا کې ډېر مخلص او په عبادت کې ډېر عاجزي کوونکي وي ځکه چې زړونه یې د دنيا له زينت سره له تړاو څخه خالي وي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3367